ناشر و نویسنده: پوهندوی آصف بهاند تأریخ: ۲۰۱۴/۰۸/۲۹

# د تـوتـکـی لـه وزرو
## (د نوزادي د شعر په بڼ کې)
دریمه برخه

د شاعرانو د دندو په سلسله کې چیرې ویل شوي وچې: «موږشاعران د عدم دروازې په سوکانو وهو، تر څو یو ځواب ورکونکی غږ واورو...»
نوزادي هم د خپل ژوند تولې تجربې، خاطرې او دیوالونه په سوکانو وهي، ځواب ورنه غواړي او په خپلو شاعرانه چیغو سره غواړي د خاموش اکثریت له دایرې څخه لومړی ځان او بیا خپل نور د کتار ملګري را وباسي او راوېښ یې کړي، د همدې هدف په خاطر چغې وهي:

نـور د عقل له بازاره بـه راوځم
لیونـوغوندي له ښاره بـه راوځـم
د تقد یرپه کوتو څیرې ګریوان سره
هـوښـیـارانـو لـه کـتاره به راوځم
تـر ایرو لاندې بخرکی نه پریوزم
و لـمبوتـه له انـګاره بـه راوځم
په لیمو کې به مې مینه یار ته یوسم
له قاصده، له رویبـاره به راوځـم
د بریښنا په دود به ځم د یار ترکلی
د تیـارو د یـون له کاره به راوځم
چې شمله مې د ایوب بیا جګه نه کړه
مـلالی د غـاړې هـاره بـه راوځـم
د لمرښارکې به د پیغلو اتڼ جوړ کړم
تـورو شپو کې له خماره بـه راوځم
پښتنو ته به کړم ږغ «کښتي ډوبیږ!»
و اقـرارتـه لـه انـکاره بـه راوځـم
یا بې وېښ کړم د کلوله درانه خـوبه
یـا نـوزاد او کـنـدهـاره بـه راوځـم

د نوزادي د شعرونو دا تولګه(بریتور آشنا) که په ځیرسره ولوستل شي، لیدل کیږي چې شاعر ځان د زړبودی په زیر بڼ کې ایسار احساسوي او د دې زیرمني د زیرو پاڼو په اتڼ کې په خپل تیر شنه پسرلي (ځوانی) پسې ډیرځلي ارمان کوي:

خزاني که د قارون وربانديي ورکړم
نه به بیا راڅخه تللي ځواني راشـي
او یا:
چې ځـواني مـخ پـه زوال شـي
الـف قـد چـې لکـه دال شــي

نوزادي په ځوانی پسې ارمانجن او له خپل ستړي ژوند نه ګیله من دی. ځان ملامت ګڼي، خو دی د نورو ډیرو شاعرانو پر خلاف نه وایي چې ما مه ولئ، لا په جګ غږ وایي:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

هرچا ویشتی یم په کاڼو، د سنګسارسره جوړیږم
د منصورسکنی ورور یم،زه د دارسره جوړیږم

د وخت ناکردو، سیاسي لوبو او کشمکشونو نا امیده کړی دی، داسي ښکاري چي شاعرنور ژړانده په ورکو لارو سر دی او په ژړا ژړا وايي:

چي شملي به يي د خيال هوډونه جګ ورل
اوس هغه لونګی لویدلي پر اوږو وړم

د رندی د نړۍ توري او کلمات يي په شعرکي له ورايه مالوميږي. جام، مې، مينا، ميخانه، مي پرست، شراب انګور او... د نوزادي په دي ټولګه کي ډير ياد شوي دي. د ځوانی خاطرات او د زړبودی دردونه او رنځونه ورسره په شاعرانه ډول غوټه کړای شوي دي.
د نوزادي د شعرونو دا ټولګه د ده د ژوند د دردونو، رنځونو، ماتو، هجرتونو، پأسونو د دوري محصول تخليقات دي، چي په کي په ښه توګه د ده د زړه او ضمير غږ انځور شوی دی. په رسا ژبه خپلي ځواني پسي افسوس کوي او له يوه رنځوونکي حالت سره لاس ګريوان دی، خو له دي ټولوکړاوونو او ستونزو سره، سره په ده کي بيا هم د ميني جذبه ژوندۍ ده، د وطن د ميني جذبه، د خلکو د ميني جذبه اود ده د خپلي ورکي ميني جذبه.
د وطن د جوړولو او د خلکو د ښادولو له پاره نوزادي فکرونه د زماني ناخوالو او ککړو سياسي معاملو داسي سره وپاشل لکه په تياره کي شليدلی اميل چي بيرته ټولول اوجوړول يي يا ستونزمن وي اويا هم ناشوني، خو دی په خپل ځانګړي رواني چاپيريال کي په هماغه نيك نيت فکرکوي د خپلو هلوځلو لړۍ لا پسي تعقيبوي.
څو لسيزوجګړو، مهاجرت او په تيره بيا پردي چاپيريال او نويو تجربو پر ټولو بي ځايه شويو باندي خپل ځانګړي تأثيرات پريښي دي، په تيره د فرهنګيانو او له هغي ډلي نه د شاعرانو، په فکري جوړښت کي يي د پاملرني وړ بدلونونه رامنځ ته کړي دي او دغه بدلونونه د دوي په تخليقاتو کي له ورايه احساسيږي. نوزادي د هغه نسل استازی دی چي تيري تجربي با ارزښته خزانه ګني او له نويو لاس ته راوړنو سره يي يو ځای کوي، نوی فکر ورباندي کوي او نوي نسل ته يي په نوی ښه وړاندي کوي، چي دا تجربه يي په هر شعر کي محسوسه ده.
د شعر پيام يي کله کله له کليشه اي حدودونه قدم وړاندي ږدي او د اوسنی دوري له غوښتنوسره سم مسايل په کي مطرح کوي، توره پريږدي او پرځای يي د قلم، ليك لوست او پوهي لوری غوره کوي او تر ټولو ښه پيام دا دی چي د نفرت پرځای ميني ته ډيره پاملرنه شوی ده. شاعرهرڅه ته د ميني له دريڅي ګوري
نوزادي د خپل ذهن له دريڅي نه جهان ته کتلي دي، خپل چاپيريال، ټولني او خلکو نه يي عکاسي او اخيستنه کړي ده، بيا يي د خپلو تير وتجربو په لابراتوار کي چاڼ کړي دي او د خپلوغوښتنو سره مل يي، د کلماتو په لوښي کي له تشبيهاتو، استعارو، کنايو او تخيل سره يوځای د لوستونکو مخ کي ايښي دي. اوس د نوزادي له دې تخليقاتو نه اخيستنه، برداشت، قضاوت او د ښو او نا ښو بيلول، د لوستونکو کار دی.
نوزادي د زدکړو او مسلك له مخي يو انجنير دی، خو د ژباړي، ليکني اوتخليق په ډګر کي يي هم د خپل ژوند ډيره برخه او وخت کارولی دی، او د پښتو ادب په ډګر کي موږ داسي بيلګي ډيري لرو چي د خپل مسلك ترڅنګه يي شاعري ليکوالي او نورهنري کارونه هم کړي دي. لکه:

انجينرګل افضل ټکور (شاعر)
انجينرنظيف الله تکـل (شاعر)
ډاکترحفيظ‌الله خوړلـن (شاعر)
ډاکترپيروز(سنـدرغـاړی)
او...
په دوی کي يو هم نوزادی دی،چي د ژوند ډيره برخه او وخت يي د شاعری، ليکوالی او ژباړو له پاره جلا کړی ده.
نوزادي د خپل عمر ښايسته ډيره برخه له هيواده بهر تيره کړي. د لوړو زدکړو مهال او په ډنمارك کی د مهاجرت ژوند تيرول؛ خو ده هيڅ کله خپل وطن، خلک، کلتور، مفکوري او ذهنيت ته شا نه ده اړولي. ژوند يي ورسره کړی او قدم په قدم يي يادوي. څومره چي ما نوزادي پيژندلی دی، ده خپلي فرهنګي هڅي په شوروی اتحاد کي له ژباړونه راپيل کړي دي، بيا يي د تدريس تر څنګه د تاليفاتو، څيړنواو تخليق په ډګر کي هم قدم ايښی دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په څیر و لولئ

کله چې په ټول افغانستان کې د فرهنګي یون بهیر ته وګورو، نوزادي په نه ستړي کیدونکي ډول په دې یون کې مخ پروړاندې روان دی، ژباړې کوي، علمي مسایل راسپړي او په پای کې د شعر په بڼ کې لکه سرګردانه عاشق ګرځي راګرځي؛ خو زه دا په ټینګار سره بیا بیا وایم چې د ده د علمي څیړنو او اوسنیو ساینسي مضامینو ژباړه په اوسني وخت کې د ټولو لوستونکو له پاره ډیره اړینه ده، په تیره د نوي نسل له پاره. د شعر او نورو ادبي مسأٔلوپه باب خو موشکر دی د قلموالو کمی نه شته، خو په علمي او ساینسي مسایلو کې زموږ د قلموالو هڅې په نشت حساب دي او زموږ سترګې دغسې فرهنګي شخصیتونو ته ور اوړي لکه نوزادي.
ما نوزادي ته د علمي مضامینو ژباړې ته د پاملرنې یادونه کړي او ډیر ځلې مې بیا بیا ورته تکرار کړې هم ده او ورته ویلي مې دي چې پښتو ژبه د همدې علمي مسایلو په ژباړې سره غني کیدای شي چې د نوي او ځوان نسل اړتیا هم ده.
زه ځان ته دا حق نه ورکوم چې د نوزادي په شعرکې لاس وهنه وکړم هغه هم په دې خاطر:
څنګه چې شعر له طبیعت اوعیني ژوندانه څخه د شاعر اخیستنه یا عکاسي ده او دا هغه طبیعت ا و ژوند دی چې شاعر (نوزادي) په فزیکي او رواني لحاظ په کې ژوند کوي، څه شی یې چې څه ډول انځورکړي، هر څه (ضعف او قوت) یې په ده پورې اړه لري، په هغه کې لا س وهنه، دې اخیستنې یا عکاسۍ ته زیان رسوي.
کیدای شي په یو ځانګړي بحث کې د نوزادي د شعرونو پخوانۍ ټولګه (د وړانګو جنازې) او د دې ټولګې(بریتور آشنا) شعرونه یو له بل سره پرتله شي، خو زه دلته دا کار نه کوم. دومره وایم چې د نوزادي د شعرونو دا جونګ د ده د نویو شعري تجربو یو تازه پیشکش دی. نوزادي صاحب د دې شعرونو دراليږلو پرمهال دا هم راته وویل چې خالي صفت مې نه خوښیږي، یو څه یې د نقد پر تازیانه هم ووهه؛ خو ما دا کار و نه کړ. ځکه چې زما له نظره د مهاجرت په دې چاپیریال کې، د پښتو ادب په دې خزان وهلي بڼ کې وروسته له ډیرو وختونو یو څوغوټۍ راغوړیدلې دي، دا باید و نازول شي، نه دا چې د نقد په تونده سیلۍ باندې بیرته مړاوې کړای شي.
کله یې د ښو او ناښو څرنګوالی د ادبي فنونو او ژبنیو معیارونو په تله کې وتلو، نو د تلې دواړه پلې به یو څه نا برابرې وي.

په ایرو نه سوزم زه اور لټوم
ځم د سکون له کوره شور لټوم
د مړه ساحل له قبرستانه وځم
په توپاني څپو کې کور لټوم
چې مې په درد د سوي زړه پوهیږي
فراق سیځلی لکه سکور لټوم
زنځیر د عقل دې جنون مات نه کړ
نوزادي ستا پښوته به نور لټوم
پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ